SHARIAT weekly

شریعت

اوونیزه

په اوونی کې دوه ځله خپرېږي

دافغانستان د اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارگان

شپږم کال ۳۱ مه گڼه پرله پسې (٤۱۱) چارشنبه د۱٤۲۲هـ ق کال د صفر المظفر (۱٥)

د۱۳۸۰هـ ش کال د غويي دمياشتي (۱۹) د۲۰۰۱ ميلادي کال دمي (۹)

الهی فرمان

عدل (انصاف) وکړئ تاسې ! همدا (عدل) دير نژدې دی تقوا (پرهيزگاری) ته .

(سورة المائدة)

توجه !

ايمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنين کلمات مقدس را به بي حرمتي بگذاريد.

محترم سبحان الله قوماندان فرقه ولايت کنرها !

مجاهدين اردوی اسلامی درولايت کنرها کاملاً بر اوضاع مسلط هستند

مردم ولايت کنرها همکار نزديك مسولين امارتي ميباشند

کابل باختر : مجاهدين اردوي اسلامي افغانستان مستقر درولايت کنر کاملاً براوضاع مسلط بوده وتبليغات صحنه ودشمنان امارت اسلامي مبني برتصرف مناطق درآن ولايت اکاذيب عواء تربيانه ميباشد وهيچگونه حقيقت ندارد اين مطلب رامحترم مولوي سبحان الله قوماندان فرقه ولايت کنر طي مصاحبه باخبر نگار آژانس اطلاعاتي باختر ابرازداشته افزود مناطق غند چناري تنگي با پروپوساخات چوکي وتوآباد ولايت کنر که حاجي قدير يك تن از سران مخالفين دبشب اوعاتصرف آنرا نمود بود کاملاً دروغ وبي اساس بوده وآنان اين مساله را به خاطر ايجاد سرو صداها درمطبوعات خارجي به منظور رضايت وخوشنودي حاميان خارجي ص ٤

تحت رياست معاون اقتصادی رياست الوزراء

جلسه کميسيون عالی اقتصادی داير گرديد

جلسه کميسيون عالي اقتصادي تحت رياست محترم مولوي عبدالکبير معاون اقتصادي رياست الوزراء قبل از ظهرديروز تدويرياقت دفتر مطبوعاتي رياست الوزراء خبر داد درجريان کاراين جلسه پروژه هاي مربوط وزارت خانه هاي مخابرات هوانوردي ملکي وتوريزم فوايد عامه ، حج واوقاف ، امربالمعروف ونهي عن المنکر ، رياست عمومي اداره امور ، بانك انکشافي زراعتي ورياست تربيت بدني وسپورت مورد بحث وغور قرار گرفته بعدازارزيابي همه جانبه درزمينه هاي مختلف تصاميم لازم اتخاذ گرديد .

په اسلام آبادکي دافغانستان داسلامي امارت سفير:

دافغان مهاجرو څورونه دانديښنې وړده

پوليسو ته لاربښوونه کووچي مهاجرونه ځوروي

محترم معين الدين حيدر

افغان مهاجر وسره به په ميوادکی دننه مرستی وشی

ښاغلی لوېرز

دپاکستان په اسلامي جمهوريت کي دافغانستان داسلامي امارت سفير ملا عبدالسلام ضعيف پرون دپاکستان داسلامي جمهوريت دکورنيو چارو له وزير سره وکتل . دغي کتني په بهير کي دپاکستاني پوليسو لخوا دافغاني مهاجرينو دنيول کيدو په اړوند خبري وشوي او دپاکستان داسلامي جمهوريت دکورنيو چاروزير محترم معين الدين حيدر داډ ورکړ چي داړوندو اپالتونو پوليسو ته په متحداالمال دول لاربښوونه کوي چي افغان مهاجرين بي ځايه ونه ځوروي . دغه راز دهغو افغاني ښه تو دلسيره ونې دموضوع په باره کي چي دمتحده عربي اماراتو په محبسونوکي همدااوس دسلدو دنه برلوله امله دغه هيواد د پوليسو خوا نيول شوي دي او په محبسونو کي ژوند کوي خبري وشوي په خبرکي ويل شوي دي چي دمتحده عربي اماراتو مقامات هلي ځلي کوي چي افغانستان ته دغو بنديانو ٤ مخ

محترم مولوی محب الله گرمسيري رئيس هوتل انترکانتيننتال درمصاحبه با « شريعت »

کانتين بهاری انترکانتيننتال مهمانان داخلی وخارجی راباشرايط سهل ميپذيرد

کابل شريعت : خوانندگان محترم خبرنگارما ابتبار به سلسله تهيه گذارشات خوش سري به هوتل انترکانتيننتال زده و با محترم مولوي محب الله گرمسيري رئيس آن هوتل مصاحبه راانجام داده است که اينك توجه شما عزيزان رابه آن معطوف ص ٤

نمايي ازهوتل انتر کانتيننتال زيبا ترين منظره ازمناظر قلب کابل عکاسي : يوسف

داداری اساساتوزدکړې سيمينارپای ته ورسيد

کابل باختر : دافغانستان داسلامي امارت درياست الوزراء اداري مرستيال محترم ملا محمد حسن آخند پرون داداري اساساتو دزده کړي سيمينار په پايته رسيدونکي غونډه کي چي دکار اوټولنيز وچارو دلوي رياست په نوبت جوړه شوي وه گډون وکړ داداري اساساتو دزده کړي سيمينار چي څه موده محکي دکار اوټولنيزوچارو دلوي رياست لخوا داداري پوهي دسطحي دلوړتيا ٤ مخ

دعامی روغتياله وزارت سره ددوو گرځنده امبولانسونو مرسته وشوه

کابل باختر : دپاکستان داسلامي جمهوريت دتعميرامت او فيروزه اشياء فونډيشن خيريه موسسو دوه گرځنده امبولانس مهربونه چي په مدرنو ضروري روغتيا يي سامان آلاتو سمبال دي دعامي روغتيا وزارت ته ورکړيدي . ٤ مخ

توکسو پلازموزميکروبيست که باعث ضايع شدن طفل در بطن مادر ميگردد

کابل - شريعت : خوانندگان نهايت عزيز اخبرنگارما ابتبار به اساس معلومات محترمه طبيبه فهيمه سکندری « خليل » پيرامون عوامل ضايع شدن طفل دربطن مادر گذارشي را تهيه نموده است که اينك غرض آگاه شما عزيزان به نشر ميرسد .

والدين گرامی !

هستند برخي از خواهران ماکه متاسفانه يك ياچندين طفل خود را قبل از ميعاد معين يا ضايع مي نمايند يا اطفال معيوب و بيجان بدنيا مي آورند ايشان هم نمي دانندکه علت اين چنين ولادت هاي نا ... ميداننه چي خواهدبود . اينك براي ماداراتيکه به چنين عوامل مواجع بوده اند معلومات طبي ارائه مي گردد تا مادران در قسمت رعايت حفظ الصحه در زند گي روزانه خويش کوشا باشند وهم تاحدامکان عوامل چنين ضايعات رابرطرف نمايند . توکسوپلازموس يکي از مکروب هاي است که عامل چنين بدبختي هادر يك خانواده گرديده ميباشد . توکسوپلازموس گونندی ساده وداراي سه شکل ميباشد مهمترين ان بنام اووسيت « oocyte » بوده که توسط مدفوع گربه مبتلابه اين مرض انتشارمي يابد وسيکل حياتي خودرادربدن سه هفته دروجودگربه تکميل مي نمايد . شکل ديگر آن بنام « سيستوزويت » ياد ميشود که در انساج بدن مثل دماغ وعضلات قلب بوجودميآيد . وشکل سومي آن بنام « تروفوزويد » بوده درساينتو پلازه حجرات هستوي دار ص ٤

دلوگر ولايت په محمد آغه کي :

دېوه روغتيا يي کلينيك د بنسټ ډبره کيښودل شوه

لوگر باختر :

دلوگرولايت دمحمد آغي ولسوالي دگمران په کلي کي ورمه ورځ دډيرشو زرو ډالرو په لگښت دېوه روغتيا يي کلينيک دبنسټ ډبره دېوي غونډي په ترڅ کي کيښودل شوه په هغي غونډه کي چي له هندي امله جوړه شوي وه دلوگر ٤ مخ

سنگ تهداب مسجد عيدگاه قريه قلندر ولسوالی سرخ پارسا گذاشته شد

سنگ تهداب مسجد عيدگاه قريه قلندر ولسوالي سرخپارساولايت پروان اخيراً گذاشته شد عيدگاه متذکره که درساحه دوجريب زمين در دوطبقه اعمار ميگردد گنجايش يك هزار نماز گزارراديك وقت دارابوده وبمنظور اعماران تاکنون يك هزار و پنجصد لك افغاني ازطرف مردم محل جمع آوري وکمک گرديده است درمراسم تهداب گذاري مسجد مذکور عده از مسولين آن ولسوالي وچند نفر از موسفيدان به نماينده گي ازديگران در رابطه به اعمار مساجدواماکن مقدسه صحبت نموده ازهمکاري ومساعدت مردم درزمينه قدرداني بعمل آوردند.

محترم سيد حيات الله هاشمي رئيس عمومي تصدي تخم هاي اصلاح شده بذري درمصاحبه با « شريعت »

برای ۷۰۰ تن دهقان مقدار ۱۷۲۳۷۲ کيلوگرام گندم اصلاح شده توزيع شده است

کابل شريعت :

علاقمندان محترم ! خبرنگارما اين بار سري به رياست تصدي تخم هاي اصلاح شده بذري زده ودرمورد کار وفعاليت مربوطه شان با محترم سيد حيات الله هاشمي رئيس آن تصدي مصاحبه راانجام داده است که باهم مي خوانيم :

درآغاز محترم هاشمي چنين گفتند : تصدي تخم هاي اصلاح شده درچوکات وزارت زراعت ومالداري فعاليت داشته وهدف آن بلند بردن حاصلات في واحد زمين از طريق ترويج وتکثير انواع تخم هاي اصلاح شده بذري به خصوص انواع گندم هاي اصلاح ص ٤

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

وروستی جگړی دمخالفينو دځنکدن نښې دی

مغرضو اولاس وهونکو هيواد و نو دمخالفينو دوروستيو خو ځټتو نو لپاره لاډير مخکي پلانونه جوړکړي و ، پيسي ، وسلي اونور ضروريات يې ورکړي او دداډگيرني اوزړ ورکولو په مقصد يې ډير تبليغات ورته کړي و په دي لړکي فرانسي ته دمسعود سفر او هلته يې پورته پورته غورځول ، په تهران او دوشنبي کي غونډي د بوشمير تنيتيد لو جگړه مارو ببرته راوستل او دملگرو ملتو له خواهغوي ته دجگړي اووسلوتر لاسه کولو داډ ۲ مخ

برای احرازکرسی رياست جمهوری درايران هشتصد نفر خودرا کانديد نموده است

گفته رسانه هاي خبري جمعي ايران اسماي برخي از مقامات عاليرتبه درميان کانديد ان به چشم ميخورد . جمهوري ايران که ماه آينده برگزار خواهدشد تاکنون هشت صد نفر خودرابراي شرکت درآن کانديد نموده که به شوراي نگهبان رسيده گي به صلاحيت کانديدان شرکت در انتخابات رياست جمهوري راآغاز کرد انتخابات رياست

امريکا دمخدراتو څارنې کمېټې غړيتوب له لاسه ورکړ

واشنگټن : دملگرو ملتو دسازمان دبشري حقوقو په کميسيون کي دخپلي څوکي له لاسه ورکولو په تعقيب دامريکا متحده اياالات په مخدره مواد وياندي دڅارني دڅيړ والي کمېټې له غړيتوب څخه ايستل شوېده دهغي راپ اخيستني له مخي چي ددغي کمېټې دهيات دټاکني لپاره وشوه په شمير هيوادونو په کمېټې کي دامريکا له غړيتوب سره مخالفت وکړاو دغه هيواد يې په دي ٤ مخ

پتمنو او ميړنيو هيوادوالو ! راځئ دخپل وران وېجاړ هيواد دبيا رغونې څخه سورتيا او ښېرازي لپاره سره يوموټی او متحد شو

شریعت

دتأسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې
مسؤول مدیر : عبدالرحیم «ثاقب»
مرستیال : غلام محمد فاروق
دبوي ګڼي بیه : په هیواد کي (۱۰۰۰) افغانی په پاکستان کی (۳) کلداری
پسټ بکس : (٤۷۱) کابل - افغانستان تیلفون : ۲۱۳۸۱- توزیع او شکایات :٦۲۸٥۹
جاري حساب : ٤-۳۸٥/۷ د افغانستان بانك مرکز
چاپ : امارتی مطبعه

د سرمقالی پاتي برخه

ورکول هغه مهم ټکي دي چي ېوازې او ېوازې مخالفېنوته دمورال ورکـولو لپاره ترسـره شول٠ خـو څرنګه چي داډول مورال بالکل دېوه مصنوعي تنفس ورکـولو په شان دي چي هسي دڅوشېبو لپاره کاروركوي ، دمخالفېنو زرونه به هم دېرژرمات او ځاېي داپرله پسي او ېو مهاله ګډعملېات ېي همـاغـه دځنکدن تربکي وي په چتکي سره به غلي او لاس پنبې به ېي دتل لپاره په کـرارشي داچي مخـالفـېنو ددغـو عملېاتو لپاره دېر وس چارکړي دوستم ، حاجي قدېر او نور فـرارېان ېي راېللي او پنجشـېر ،بدخشـان کي ېي دېري غونډي کړي وي ،ددي مانالرچي ګني دوي پـه اصطلاح دغو منظموعملېاتو باندي ښه پوره حسـاب کړي و نواوس چي دغـه برېدونه بشپړ بي نتـېجي او له سره په تاوان کي روان دي ، خامخا به دمـخالفېنو روحېات کمنروزي کړي او هغه ورغ لري نه ده چي ټولي وروســـتي ځالي ېي داســـلامي اردوله خواړنګي او ټولي هېلي ېي له خاوروسره خاوري شي

په دي کي شک نشته چي دمخالفېنو دواکمني دوره افغان ولـس ته ښه معلومه او دوي ټول هغه تجربه شوي خلک دي چي په کـامله توګـه لاپخـواګـوښه شـوي او په ولـس کي ېي دپښوځاي نه دي پاتي . داېېله خبره ده چي مغرض هېوادونه ېي په وج زور هېـواد ته رالېږي او بېـا دېوه واړه غلچکي برېد په سـرهم دېر پراخ تبلېـغـات ورته كـوي كـه څه هم داحقېـقت اوس ټولو مـغرضـوخواوو ته څرګندشوي دي چي اسلامي امارت دافـغان ولس له بشپړ ملاتړنه برخمن او دساتني لپاره ېي دېرو شازلمېانو سرونه په لاس نېو لي خو داچي دهغوي سېمه ېېزي ګټي په افغانستان كي له ګډ ودي او كورني جګړي سره تړلي دي نوځكه ددي موخي لپاره به ملېـاردونو پېـسي لګوي او غـواړي چي تر دېرمـودي پوري دغــه جګړه روانـه او افــغـانـان دخـپـل هېـــواد او تاتوبي جوړولوته مناسب وخت پېدانه كړي.مخالفين هم چي ټول ېي ماهېتـه ، وطن پلورونكي اوبي ضـمـېره پردي نوكـران دي ، ددښمن ډول ته هماغـسي اتڼ كوي او دهېواد دوېشلو او بي ثېاتي په خطر ناكو دسـېسـو لګېادي لكه چي دملېشـو ېو مشـردوستم وړمه ورغ هم دخپل دي نېت څرګندونه وكړه او وېي وېل چي باېد په شـمـال كي دشـمـالي ولاېاتو طالبـان واكمن وي،چي داپه خپله دهېواد دتجزېي هماغـه پخواني طرحـه ده كـوصـه چي دافـغـانانو دښـمن مـغـرض هېوادونه ېي له زمانـو راهېسي ارمـانجن دي . خو دافـغانستـان اسلامي امـارت لـه خپل مـسـلمان ملت سره په دي خبره متـعهد دي چي دګران هېواد دتجزېي او بي ثباتي ټول اسباب به له منځه وړي ، پردي لاس وهني به ختمـوي او دخپـل اسـلامي نظام او خپـلواكي سـاتني لـپاره به له هېڅ ډول سر ښندني مخ نه اړوي . والسلام

جهاد که بغاوت؟

لاروی

شل كـاله وړاندي په اســـلامي نړي كي زېاترودېني ټولنو او علمـاو فكر كـاو ٠ چي له دېر ي زمــــانـي راهېـــسـي داســلامي خـــاوري په لراوبركي داسي كـوم جنګ نه دي پېښ شوي ، كـوم چي په شرعـي لحاظ د«جهاد» حكم پري تطبـېق شي خـــــو دادي اوس افغانستان هغه اسلامي هېواددي چي بالكل په شرعـي مـانا جهـادپكي شروع او افغانان دېوه ســوچه اســلامي نظام لپاره په جنګرېز بوخت دي ، نه دډېموكراسي او نورو اهدافـولپاره خو څرنګه چي ټول كـفـار دجـهـاد او مـجـاهد له اصطلاحـاتونه سـخـتـه وېره ترهه لري نو دهغه بد نامـولـولپـاره ېي خـطرنـاك شـــېطاني پلانـونه جـوړكـړل او بالاخـره خـبري دومـره رېښخندي ته ورسـېدي چي دوستم ، كـېـان ، بابه جـان ، مـحقق او داسي نورملېشـه بان او داړه مـاران ټول په اصطلاح مـجاهدېن شـول . او دادي سـره لـه دي چـي اوس دوي ټـول داسلامي امارت پرخلاف

جنګېږ ي او پـه خپله هـم نـاري وهـي چـي جګړه ېي دډېموكــراسي لپـاره ده خـو استـاد سـېاف او حـاجي قدېر هماغسي خپلي خبري ته اړم دي چي ګـني دوي هـمــاغــه پخــواني مـجـاهدېن او دخداي درضـــالپـــاره په دي غـروكي شـپي تېروي !! مونږ په دي هكله ېوازي له اســتـــاد ربـاني ، استـادسـېـاف اوحـاجي قدېر غـوندي خلكو نه ګـېله لرو ، دانورخوېي له هغه هم په خپله زړه لاره روان او اوس هـــم دروسـانو ګوډاګـېان دي لكه پخـواچي و. زمونږ پـه خـــېــال ښــاېي دپېغـمبر علېه السلام داحادېثـو دامضمون به دمسلمـانانو ټولو علما و تـه مـعلـوم وي چي وابي :ترهغو دېو٥ نظام اوحـكـومت پـرخـــلاف وسلـه مـه رااخلي چي څرګنـد كـفـر مـونـه وي تري لـېدلي او داچي څوک دمـسلمـانانو په ټولنه او جمـاعت كي اختلاف او فتنه اچوي

نـو ســـرېـي ووهـي پـه فقهي اصطلاح دغه شان فتنه ګروته «باغېان » وېل كـــېـږي او ټول امـامـان ېي دسـخـتي ســـزااو وژلو فـتـوي وركـوي - ښه نو ښاغلو اســـتـادانو او حـاجي صاحب قدېر ! تاسي خو ښـــه پېـــ رډو رنېو سترګووېني چي طالبانو دافـغانسـتـان له (۳۱) ولاېاتونه (۲۸) ونېول ، اســلامي امـــارت ېي جـوړ او شـرعـي احكام ېي تطبـــېق كـــړل او تـسلط ېي هم كــه پـه زوروي كه په رضا تردي حد ٠ ورسـېد چي كلي په كلي پاچاهي ګـاني ېي لـه منځـه ېوړي ، وسلـه ېـي راټوله كـړه ، امنېت ېي راوست او په ېو ٠ فـرمـان ېي په ټول هېواد كي دچرسو اوكـو كنارو كښت بندكړ .دغه نظام دافـغانـسـتـان له كـوم ېوه غـرضي مـلانه پرته پـه غـوڅـه توګـه ټولو علمـا و تاېېد كـړ، دپاكـسـتـان ټولو دېني حلقـو دسـعــودي او

نورواسـلامي هېـوادو سترو علماو او مفـتېا نوېي مـــلاتړ وكـــړ او دخـداي فـضل دي اوس په (۲۸) ولاېتـونوكي دهرجـامـع جـومـات په خطبـه كي امـېرالمومنين ته دعـاګـاني كـېـږي . نواوس تاسي په خپله سـر په ګرېوال كـوز او فـېصلـه وكـړي چي روانـه جګړه موجهاد كه بغاوت دي ؟ خـداي دي نه كـړي تاسـوباندي هماغـه دابو جهل ، ولېد او عتبه چل نه وي شـوي چي حق ښـه سـېي ورتـه څرګـنـد و خـو دضـد او انانېت لـه امله ېي اعتـراف نه كـاوه او بالاخــره همــــاغـــسي دشـېطان پـه ملګـرتېـا كي ولاړل - تـاسي نـه پوهـېـږي چي دجګړ ي خرڅ روسان ، هندوان او نوركـافـران دركـوي ، ستـاسي ملاتړي هغـوي او دجنګ ګټه مو هغوي ته رســـېـږي ؟ او دافـغـانـســتـان خلک پـه دي نـه پوهـېـږي چي تـاسي به څـرنـګـه اوس دكـونړ ، بدخـشـــان او پنجـشـېـــر لـه غـرونو

جګړه راپـېل كـــوي ، پاتي (۲۸) ولاېتـونه به هم نـېـسي اوبـېـابه مـونږته په ډېموكراسي، حق او عـــدالت ولاړ ېو حكومـت او نظام جوړوي ؟! او بـېـــاكـــاشكي ستـاسي دواكمنۍدوري مــونـه واي لـېـدلي ، اباســونېډ دوســتم ، مسعود ، كېان ، خلېلي ،محقق اوحاجي قدېر حكـومـتـــونـه نه دي لېدلي ؟ تاسي خوټول تجربه شوي خلک ېاستي - نـو اوس ولـي بـي ځاېه جنجالونه جوړوي او دامـظلـوم ولـس نـه پرېږي چي لږدآرام ساو اخلي او دروســانـو دېر غل كند والي جـوړ ي كـړي نوراځي كــه له خلكو نه شرمـېږ ي ، له خـداېه ووېرېږي ، توبه وباسي اوكـه په هېواد كي دننه موشـپـه نه تـېـــــربـېـږي بـــــا مـــــــسوځـوک نـه پــرېـږدي ، خـــېـردي پــــېـــسـي خــو ښي دېـــري درســره دي ، چـــــــمـــــــرتــــه بـــهـرحـشانتــه ښــه ژونـد جــوړكـــړي - داخــوضـرورنـه ده چي تــل دي والـــېـــان او وزېـــران واوســـي .

زمونږماشومان او نوي زلمیان څرنګه بې لارې کیږي؟

رحمت الله عالیم زوي وردګ

په دي كي شک نشته چي زمـــونږ ننټېـو تنكېو زلمېانو او ماشو مـانو په بي لاري توب كي پرډپرو نوروعواملو سرېېره ، دموراوپلار او كورني دمـشرانو ترېـبه ، اوله ماشومـانو سـره دهغـوي چلند او روبه هم اسـاسي رول لري . زمونږدټولني په اكثرو كـورنـېوكي نارېنه له كـورنه بهـراوحـتي له هېـوادنـه بهـرخـپلي كورني تـه‌رزق او روزي په پېدا كولو بوخت وي ،چي لـه همـدي املـه خـــپلي كـــورنـي او اولادونـو ته دپاملرني لپـــاره دېـركم وخـت مومي .ښځه با مورهم پـدي لاره كي خــــپل واجبات او مسولېتونه په سمه توګه نه شي درک كولاي او بـا بي كه

درک كـــوي هم دهغـــو لپـاره توجه نه كوي او په نتـېجـه كي بي مــاشـومــان او تـنكي زلـمـېـان دسـم لارښوونه درلودني له امله هغسي نه روزل كـــېـږي لكه څنګـه چي ټولـنـه او كـــورنـي ورتـه ضـــرورت لري .ځېني نارېنه با دكورنېو مشران په خپلو اولادونـــو بـانـدي پــه كوچني والي كي له بي ځاېه سختي كاراخلي چي داعمل هم دهغوي داولادونـو او تـنكېـــــو زلـمـېـانو پـه راتلونكي او دهغـــوي پر روزنـه بـاندي غلطه او منفي اغېـره كوي .دمـثال پـه ډول دمـــاشـومـــانـوېي ځاېه وهـل ا و تـكـول اوهروخت پـه هغـــوي باندي پـه غـوسـه كـېـدل هغـه ټكي دي چي كــه

پلرونـه او مـېـندي ورتـه توجه اوپاملرنه ونكړي نو دماشومانو دماېوسي سـبـب ګـرځي اودغـــه مـاېوسي بالاخـرهغـوي دېدو ملګرو اندېوالي تـه راكـــــاږي . دمـاشـومـانود سـمي او ســالمي روزنـي پـه لاره كي ېو مــــهـم ټكي داســلام دمـقـدس دېن دترېـېـوي اسـاسـاتو پرېنا دهغـوي روزنـه ده ، داولادو پـه زړو نـوكي لـه مـاشـومـتـوبـه دالله «ج» وېره او خوف ځاي پـه ځاي كــــول او لـه كـــــوچـنـي والـي نـه داســـلامي عـــبـاداتو ترسـره كولو لپاره ېي هڅونه ىقـېنـاً د هغـوي راتلونكي روښانـه كـو لاي شـي . دكــورنـېــو ځېني مشران او پلرونه داسي هـم وي چي كلـه

لـه خـــــېـلي ورځنۍ پــوختـېـــا سـتـړي ستومانه كورته راستانه شي ، اوبېاېي لـه كـورنه بهـر لـه چاسـره كـومـه شخـړه راغلي وي دهغي لـه املـه غـوسـه وي نو ېېا پـه ېوه اوبله بهانه داولادونـو پـه وهـلو او ټكولو پېل كـــوي. او دالـېـږي ېـو ٠ ورغ نـه ، بلـكـي پـه ورځو ورځو همداسي روانه وي . كله چي مـاشـوم پـه كوركي لـه داډول حـالـت ســره مخـامـخ شي ، نو هغـه مجبـوراً هغـه عـاطفـه اومېنـه چي پـه كـوركي ېي بـاېد لـه پلاره ترلاسـه كــــړي پـه بل ځاي كي لټوي او بالاخره پـه هغـو لاروروانېږي چي پاي او نتـېجـه ېي ېي لـه انحراف

او بي لارېتـوب نـه بل څه نه وي . ســمـه ده پـلرونـه داولادونـو او كـورني لپـاره درزق او روزي دپـېـداكـــولو او دهغـوي دمادي مشكلاتو دحـــل پـــه لاره كـــي ستـړېاوي اوسـتـونزي تېروي خـو ددي معـني دانـــه د ٠ چـي بـاېـد دخـپلو اولادونو دسـمي روزنې اونېـغي لاري ته دهغـوي دلارښـووني له كـاره پـه بشـپـړه تـوګـه ځان ګـوښـه كـړي او دادروند پېټي دهغـوي مېندوته پرېـږدي ، ځكه مېندي پـه ېوازي توګه نه شي كــــولاي ددي درانده مسئولېت پېټي او چت كـــــړي . او داڅرګنده خبره ده چي ښه روز نه دنېكمرغي او برېالـېـتـوب پړاو تـه درسـېدوپېل دي او ټولي ښي انډ ېښني غــوره خـبـري ښــه كـړه وړه اوپـــــــــــــــرتـه دپـوهي نتـېـجـه ده

دمحمد رفیق «عزت» په زيار

د شعر او ادب نړۍ

چې کشور د افغانانو معطر کا
د هر بیت مصرع مې زلفې د خوبان کړي

باغي

طبیب قمرالدین «اکبیري»

من سر تسلیم بر درگاه هر دنیاي نادیده فرومیآورم
من زمرگ نمي ترسم که پایانیست برطومارېك اغاز
من نمي خواهم به عشقي سالهاپابندبودن
من نمي خواهم اسیر سحر یك لبخندبودن
من نمي خواهم شراب نازازیك چشم نوشیدن
من تن تازه،لب تازه ،عشق تازه میخواهم
من بهردم ،هرزمان ،باهرنفس یك ارزوي تازه میخواهم
من ازاین ببعدباغیم
من باغیم دگر ....

دزړګي هم لاس دی

صدیق الله «بدر»

ستړکونبولي چې دئم لاس دي
دزړه په تارمې اېښې غم لاس دي
مینه کي عشق اوجانان ګرم نه کنم
دي کي زما دزړګي هم لاس دي
چي رسبدلي درقیب ګرېوان ته
دي کي بوازي زما اکرم لاس دي
دابودروغ به درته هم ووایم
چي درشتې اورسره سم لاس دي
«بدر» په ماشومه مینه ژاړه ورته
جانان پټ کړي ترینه مم لاي دي

چقمقي توپک

سید ملا
الف خیل

راځي چي سره کېږو خپل لاسونه سره يوکړو
دسینې په درشل کي خپل یادونه سره يوکړو
راځي چي خپل دښمن په خپلوهیلونېمه خواکړو
دخپلو چاروواړه ډېوانونه سره يوکړو
راځي چي خپله توره چقمقي توپک راواخلو
دښمن ته خپل سنګرا وقلمونه سره يوکړو
راځي چي کنډوالي دخپل وطن کاندوابادي
دسپین بیرغ په سیوري کي صفونه سره يوکړو
بووالي موقایم دي په نژاد کلتور مذهب کي
راځي چي خپل اوازاوتکبیرونه سره يوکړو

ځان سانه «الف خیله» ناتقان له سترآفته
راځي دزړونو لاري ګودرونه سره يوکړو

غزل

فارق

ځار دې شي ګوګل مې تر بورجل زما
نه دې شي وطن چېري خجل زما
مري دې شازلمي تل په میراله کي
لړند د ملالو تواوریل زما
دریغ به نه کړي ځان له قربانو څخه
دانګي توپالي چي بو تر بل زما
ګندي به تري کفن د شهیدانو
حیوردي چي د ببغلو نور کاکل زما
ویس به ذرره ورکړه ایڅ په ځاي
تل رانه سرزدي دي کابل زما
تل دې وي اخلاص کي مالیاران زموږ
مراوي دي خداي «ح» نه کاندي بو ګل زما
ځار دې شي پاڅس تر بو غانوله مي
جانه په ورنکړه بو سنبل زما
ګران دیکچي تاریخ بي د نیکوورته
دبردې وي ځوانان دغسي تل زما
خدایه «ح» دښمنان بي خوار اوزار کړي تول
هسکه همیشه دې وي مورچل زما
«فاروق» «تل صفتونه دې وطن کوي
رنګین پیله دې ښکلادې وي غزل زما

د شهیدو ېني



بادسرکش موجونه دګرداب په لوري راولي
خیال نظر دزلفو پېچ وتاب په لوري راولي
بندي به ګرګیجني درواژي ګري دجګروځوري
مینه به سخت زري نتواب په لوري راولي
خوب به نه بي زړونه دایمان په رناوسینځي
تول توپك والاچي دمحراب په لوري راولي
مرخوابه خوري شي پلوشي دشریعت ښکاري
سپینه رناپې به دګولاب په لوري راولي
ببرودشهید په وینو ښکلي ماني جوري کړي
وخت به دغه غله هم دحساب په لوري راولي
ماته جنازي مودجهاد دارمانو ښکاري
موتر بک دکبارچي دپنجاب په لوري راولي
دلته بله کړي پاتخوابي دادب شمعه ده
خود بهتېنکان هم دپاتخواب لوري راولي
نښي دقدرت ګوره په هرڅه کي څرګندي دي
ورمي په هر «سحر» کي دګلاب په لوري راولي

عبدالقیوم
«تابش»



آیین ما

درجهان خویش بنګرېك نظر
تابکي در خواب غفلت کور وکر
مسلمین درهرکجې اورده اند
زیربا رکافران بېچاره اند
برشما امېدهادل بسته اند
ګرچه ازاین ارزوهاخسته اند
ظلم وبېداد فلسطین رانګر
ظلم هابراهل چېچن رانګر
اتش غم ریخته تند بر جان ما
شعله هاافرخته دردامان ما
دشمني باکفر دراپین ماست
یادګار سنت دیرین ماست

محمدرفیق «عزت»

لنډه کیسه

له پېښوره تنور جوړشوي وګرمي نوردانسان په ککري کي ماغزه ایشول خلکوهر بو کوښش کاوو چي ځان ددېوال سایه کړي او له لمره پناه شي بوازي څو کسه چي ددروازي په خوله کي په څوکېو ناست بادېکه ورته څرخېده له خندابې خولي نه سره ورتلي او چي چابه پوښتنه ترېنه وکړه له ګرمي کباب شوو توزیع څه وخت پیل کېږي؟. دوي به ورته ووېل میره اخواشه هم فقر کړي هم موخر لغتي وهي ،صبر وکړي او هڅ به بي وهل وبه بي خندل ولاړو خلکو به بواو بل ته وکتل چا به په تندي ګوته کش کړه خولي به بي په مڅکه وڅنډلي.غرمه هم نوره په ټکنه بدلېده بولس بجي شوي سپین کروزېن ودرېدو څو چاغ چاغ عینکي په ستر ګو وېږي چټ کړ ي ترېنه کېښته شول او په لاس کي کتابونه بي پاس په تندي نیولي په اوچتو ګامو بي ځان له ګرمي څخه پناه کړ.څو شیبي ورسته توزیع پیل شوه زماخو بي له هغه هم پښځوسمه نمره وه ارام ولاړوم. ماته مخامخ ولاړنفر چي ځادر بي به تر ځان راتاو کړي زوي کلوشي په پښو سپنجکه خولي پر سروه. دده غټو توروسترګو جګي نري ځواني تورووېښتو ته په کتومي له ځانه سره ووېل دلتي دي زوي مړشي کنه نو ولي به داسي خوار اوزارواي اودغه مرسته خوهم دمعیوبینو اوناتوانه خلکو لپاره ده نو دي خو روغ رمټ ځوان دي ولي بي دځان لپاره دغه داحسان خواړه غوره کړي غې شو لسم نمبر دپاېسته ګل ځوان له دي غېسره ووېل: -زه بم لست لوستونکي ورته ووېل لاس دي راوړاندي کړه چي نمره دي په لاس درولېکم .

-لاس خومي نشته.

-دابل راوړاندي کړه.

-دواړه په اوږوکي پري شوي دي.

خبرات وېشونکي پري ورغږکړ خبردي چي لاسونه بي نشته په تندي بي وروليکه له دي خبري سره لست لوستونکي په لوړ اوازوخندل او له شوندو بي لاخندانه وه توله شوي وبي وېل نمره خوبه بي په تندي وروليکم خبرات به څنګه وړي؟ هغه ورغږکړ داهم څه ګران کارنه دي لاسونه که بي نشته داړي خوبي روغي دي .

ددغو خبرو په اورېدو سره پاېسته ګل خبرات ته راوړي کڅوړه کي ترخبرات مخکي اوښکي وڅڅېدي

یون لیك

طبیب محمد نذیر «احمدزي»

۱۰

لوړي او ژوري

سبا سهار چې دجمعې ورځ هم وه دغزني را دیو ته ولاړو د راديو آمر حيدري صاحب چې يو تکړه طالب او در ديدلي شاعر ؤ ، زموږ بې په ښه خوند میلمه پالنه وکړه او ټینګ شو چې غرمه زموږ میلمانه بي شا وخوا وګرځیدو او غرمه مو له حیدري صاحب سره تېره کړه خداي شته زموږ دېر عزت بي وکړ . د اطلاعاتو او کلتور رئیس محترم مفتي لطف الله حکیمي هرات ته تللي و حیدري دهغه دوه دري چاپ شوي کتابونه هم موږ ته راکړل که څه هم حکیمي موږ ونه لیده خو دهغه دآثارو له لوستلو څخه د هغه علمي او ادبي شخصیت پوره راته څرګند شو او دا هیله مي له خانه سره تازه کړه چې خداي دي وکړي په هره څانګه او هر ځاي کې همدا شان دکار اهل خلک په چارو وګمارل شي دا ځکه چې هر مسئولیت یو امانت دي او امانت باید اهل ته وسپارل شي تر ماښخه وروسته مو دغزني د زیارتونو په تکل له حیدري صاحب څخه رخصت وغوښت او دښار په لور روان شوو . دښار د لویدیځي برخې نوي مارکیټونه چې په پاخه ډوه پوربزه او ښه عصري توګه ودان شوي و ، ولیدل وریسې دبالاحصار په لور ولاړو دغزني دفرقې ترڅنګ تیر شوو اود ښار لویدیځ لور غونډیو ته چې ډېر زیارتونه هلته دي وختو . وخت مازدیګر و . لومړۍ مو دبهلول دانا زیارت ته نږدې یو جومات کې وکړ او بیا دبهلول دانا زیارت ته چې دسلطان محمود غزنوي ورور او یو ستر فقیر او ولي و ، ورغلو ددعا لاسونه مو اوچت کړل دخپل وطن او خلکو سوکالي مو وغوښته د قبر پر سر په یوه مر مرینه ډبره دبهلول دانا دغه شعر زما پام خپلې خواته واړاوه چې لیکل شوي و :

اګر امروز راه حق ګـزیني | قیامت در صف مردان دیني
صفا کن دل زچرک شرک بهلول | اګر در دل جمال دوست بیني

وایي چې بهلول دانا یوه ورځ چیرته ناست و او له شاوخوا خاورو څخه یې خوني جوړولي او بیا یې بیرته ورانولي ستر غازي سلطان محمود غزنوي پرې پیښ شو او تري وې پوښتل چې اې بهلوله دا څه کوې بهلول ورته وویل چې ددنیا د پاچاهي په هکله سوچ کوم ددنیا پاچاهي او واک دخاورو ددغو خونو په څیر دي چې په ډېرې آساني او دسترګو په رپ کې ورانیدلي شي نو هیڅوک باید ددنیا په واک ، ژوند او مال اعتبار ونه کړي ځکه چې دا هر څه ډېر ژر تیریدونکي دي کوم شي چې پاتې کیږي هغه نیک عمل او ښه نوم دي او بس . تر بهلول دانا وروسته مو څه زیارتونه نور هم وکړل او په پای کې دخواجه بلغار ولي زیارت ته ولاړو ، خواجه بلغار ولي یو ډېر مشهور ولي تیر شوي زیارت یې دسلطان محمود غزنوي د زیارت لویدیځ لوري ته د یوې لوړې غونډۍ په اړخ کې پروت دي تر څنګ یې یوه ښه حکومتي ودانۍ هم شته چې پخوا هوټل کار تري اخیستل کیده د خواجه بلغار ولي دزیارت کیسته خواته د ژیو اوبو چینه راوتلي چې دخواجه صاحب له کراماتو څخه بلل کیږي . دغه سیمه ښه غرنۍ او ډېرینه ده او د اوبو یوه ښه چینه تري بهیږي ، اوبو ته لاندې دري څلور حمامونه هم جوړ شوي چې د پوستکي زیاتره ناروغیو ته د درمل په توګه په ک یې او خلک هلته غسل کوي دحمامونو تر څنګ په یوه بله خونه کې یو تنور هم و چې مسافروزیارت کوونکو به ډوډۍ په کې پخوله دغه سیمه دطبیعت له اړخه د ډومره زیاتې ښکلا لرونکې وه چې دسړي زړه په کې خلاصیده او غمونه یې هیریدل .

دماښام لمونځ مو هلته تر سره کړ او په داسې حال کې چې شاو خوا تیاره په خوریدو وه دزیارتونو له لوري څخه دملکي روغتون په لور راوخوځیدو . شپه مو بیا مولوي مطیع الله نائي آخند سره تیره کړه سبا سهار مو دملکي روغتون بیلا بیلې برخې وکتلې حکیمي صاحب په هره څانګه کې دمسئولینو ستونزې او وراندیزونه اوریدل چې لازمې لارښوونې یې ورته کولې . دغزني په ملکي روغتون کې دجراحې داخلې ، هډوکو ، نسائي ولادې او نري رنځ څانګې فعاله وې او په دې نږدې وختونو کې د یوې بهرنۍ خیریه موسسې په مرسته د نري رنځ د یوه سل بستریز روغتون دجوړیدو کار هم په پیل کیدو ، و تر لسو بجو مو روغتون وکوت او دعامې روغتیا دادارې مدیریت وړاندیزونه مو هم له ځانه سره را واخیستل له مولوي مطیع الله (نائي) ، ډاکټر خطاب کاکړ او نورو مسئولینو او کارکوونکو سره مو خداي پاماني وکړه او دپکتیکا په تکل روان شوو ، څرنګه چې موږ تول دپکتیکا په لور نا بلده وو نو دموټرو په اډه کې مو یو تن طالب چې هغه هم دپکتیکا مرکز «شرنې» ته روان و له ځان سره واخیست او روان شوو ، په لاره کې د «ورزو» په نامه یوه کلي کې یوه کلینیک ته چې دناروي موسسي لخوا چلیده ورو ګرځیدو هغه مو وکوت که څه هم چارواکي یې حاضر نه و خو کارکوونکي په دې پوه شول چې په دې لرې پرتې سیمه کې هم کله کله دپوښتنې څوک پیدا کیږي تر هغه وروسته زموږ مخې ته دسرډي پراخه سیمه او پروژه پرته وه دسرډي دپروژې پراخې ځمکې اوس سپېره ډاګونه ګرځیدلي و تر یوه ساعت وروسته دسرډي پروژې ته ورسیدو هلته ډېرې زیاتې تخنیکي څانګې ، ماشینونه او ورکشاپونه ښکاریدل چې یو وخت یې فعالیت کاوه اوس هم خلک امید واره و چې ډېر ژر به هر څه بیا جوړ او سیمه به شنه زرغونه شي دسرډي په پروژه کې هم یو روغتیایي مرکز و هلته ورغلو کارکوونکو یې زموږ ښه تود هر کلي وکړ د روغتیایي مرکز تولې برخې مو وکتلې نو موږ د مرکز د مور او ماشوم د روغتیا په برخه کې خدمت کاوه د اکثره حیات بي بي چې پخوابي دکابل په ملالي زیږنتون کي کار کړی وو او دسرډي اوسیدونکي دپاخه عمر میرمن وه اوس هلته په کار لګیا وه او دسیمې دښځو او ماشو مانو روغتیایي ستونزې بې تر ډېره حده کمې کړې وې د غرمې ډوډۍ مو دلته وخوړه اداري مدیر یې ډېر ښه اخلاقي او میلمه پال ځوان و زموږ ډېر عزت یې وکړ .

اعلانات

سحرگل فرزند حضرت گل یك دربند حویلي ملکیت خویش واقع ناحیه هفتم راباﻻي حاجي جان ولي فرزند حاجي محمد ولي بفروش میرساند اشخاص وموسساتیکه درمورد حویلي مذکور ادعاداشته باشند ازنشر اعلان تاده روز بریاست محکمه وثایق شهرکابل اطلاع دهند درغیرآن حق شکایت رانخواهد داشت .

***

جمال الدین فرزند علم الدین اصالتاً یك دربند حویلي ملکیت خویش واقع ناحیه یازدهم را باﻻي عبدالرزاق فرزند عبدالحبیب بفروش میرساند اشخاص وموسساتیکه درمورد حویلي مذکور ادعاداشته باشند ازنشراعلان تاده روز بریاست محکمه وثایق شهر کابل اطلاع دهند درغیرآن حق شکایت رانخواهند داشت .

***

محمد ظفر فرزند حاجي نعمت الله یك دربند حویلي ملکیت خویش واقع ناحیه هفتم را باﻻي جلال خان فرزند اعتبار بفروش میرساند اشخاص وموسساتیکه درمورد حویلي مذکور ادعاداشته باشند ازنشراعلان تاده روز بریاست محکمه وثایق شهر کابل اطلاع دهند درغیرآن حق شکایت رانخواهند داشت .

***

سدعلی فرزند صفر محمد وکالتاً یك دربند حویلي ملکیت صفر محمد فرزند نظر محمد واقع ناحیه چهارم راباﻻي حاجي محمد صدیق فرزند حاجي عبدالاحد بفروش میرساند . اشخاص وموسساتیکه درمورد حویلي مذکور ادعاداشته باشند از نشر اعلان تا ده روز بریاست محکمه وثایق شهر کابل اطلاع دهند درغیر آن حق شکایت را نخواهند داشت .

***

صفورا بنت عبدالاحدیك دربند حویلي ملکیت خویش واقع ناحیه چهارم راباﻻي تاج محمد فرزند محمد رسول بفروش میرساند . اشخاص وموسساتیکه درمورد حویلي مذکور ادعا داشته باشند از نشر اعلان تاده روز بریاست محکمه وثایق شهر کابل اطلاع دهند درغیرآن حق شکایت را نخواهند داشت .

***

وزارت آب وبرق بطري ها واجزاي آنرا ازشرکت صایقه نور به مبلغ بیست و پنج هزارو نه صد و پنجاهدالر امریکائي رسانیده مرکز وزارت آب وبرق نرخ داده است مناقصه کننده گان درخواست هاي خویشرا بمدیریت قراردادهاي ریاست پلان وزارت آب وبرق واقع بادام باغ بسپارند وخودشان ازتاریخ ۱۴۲۲/۲/۱۵ تا ده روز مراجعه نمایند شرطنامه ومشخصات را ملاحظه کرده میتوانند تامینات اخذ میگردد . خود ونماینده شان به روز داوطلبی جواز و راجستر اطاق هاي تجارت را باخود داشته باشند .

***

حاجي محمد فرزند گل جان مالك قفیر ي درملتون ولایت پکتیا ولسوالي زرمت درملتون خویشرا به اسم نوي سهاك درملتون مسمامیتماید . اشخاص وموسساتیکه درمورد درملتون مذکورادعا داشته باشند بریاست قوانین صحي وبررسي صحت عامه اطلاع دهند .

***

ریاست عمومي مطالعه ونقشه برداري زمین شش قلم موادخوراکه سالتمام د وساي مربوطه را به قیمت مجموعي مبلغ سي وهفت میلون ونه صدو نودودو هزار افغاني ازبازار نرخ گرفته است مناقصه کننده گان درخواست هاي خویشرابه آمریت خدمات ریاست مطالعه ونقشه برداري زمین واقع پشتونستان وات بسپارند وخودشان ازتاریخ ۱۴۲۲/۲/۱۵ تا ده روز مراجعه نمایند شرطنامه را ملاحظه کرده میتوانند تضمین اخذ میگردد .

***

وزارت آب وبرق به اجناس ذیل ضرورت دارد .

لست سامان ولوازم لابراتور میخانیك خاك

قطی هاي المونیمی - داش برقي - ترازي ومیخانیکي -ترازوحسابی برقي ترازوي میخانیکي ساحوي -ایقا یل پاکس - اله معلوم نمودن خاصیت خاك - اله معلوم نمودن پلاستیك خاك - اله پنترپس - سوزن پنترپس - اله معلوم نمودن وزن مخصوص -اله طبقه بندي خاك - سلندراله معلوم نمودن وزن حجمي شیشه ئي ۵۰۰/۱۰۰۰ سي سي - اله معلوم نمودن پرش خاك - اله معلوم نمودن نشست خاك - اله معلوم نمودن تراکم خاك - اله پنترپس خاك سیت غربال مکمل - ماشین شوردهنده غربال- دستگاه تولیدآب مقطر- اله تعین قابلیت نفوذ آب درخاك

سامان آلات مواد ساختماني

دستگاه تعین مقاومت کانکریت - قالب کانکریت ۱۰۰/۲۵ ملي متر - اندازه گیري متزل مخروط کانکریتي - قالب کانکریت مکعبي ۵۰/۱۰۰ ملي متر - قالب کرنکریت - قالب کرنکریت مکعبي ۵۰ ملي متر - قالب کانکریت مکعبي ۱۰۰/۲۵ - اله دیکات - سوزن گلمور- میزلرزاننده - پنترومتر- پنترومتر - ثانیه سنج - دوکیلومتر- یخچال اتومات - سیت دوناگان -غربال تقسیمات کننده ریگ - ماشین شوردهنده- میترلغزاننده سمنت - سیت غربال - چکش مقاومت کانکریت - ماشین تقسیم کننده جغل کانکریت - مواد کیمیاوي لابراتوا ر تجزیه کیمیاوي آب وخاك محلول بفر - پوتا شیم کلور اید - پوتاشیم داي کرویت -محلول خالص تیزاب گوگرد- اندیکا تورمیتایل اورنج - اندیکاتورفینول فتالین- محلو ل نایتریت نقره - امونیم هایدروکساید - تیزاب-میتایل روت - باریم کلوراید-سودیم هایدرواکساید - پودرمیواکساید -سودیم کلوراید-ایدنا-امونیم کلوراید - پودرایدرکردم-امونیم سلفیت - پتاشیم پرمنگنیت - فیرس امونیم سلفیت - داي فینول امین - پودرسلتیوم - بوریك اسید - امونیم مولیدیت -سودیم باي کاربونیت -امونیم اسیتیت -استون - هایدروجن پراکساید - امونیا- تیزاب سرکه - کلسیم کاربونیت - کلسیم سلفیت - کاپر سلفیت -سیاب -فیرس سلفیت - سلفیت سلور - سودیم نایتریت- پتاشیم سلفیت - پرکلوریك اسید - سودیم هکزامتافاسفیت -

لوازم لابراتوار کیمیاوي آب وخاك

دستگاه معلوم نمودن PH خاك - دستگاه قابلیت هدایت برقي (EC) - سپکروفوتو میتر-فلم فوتو میتر - دستگاه سنترفیوج- داش برقي - قطي هاي المونیمي- هاونگ کاشي - ترمامیتر شیشه ئي اعظمي واصغري - ترازوي حساس برقي- دستگاه آب مقطر- دستگاه شوردهنده براي تجزیه کیمیاوي - سیت غربال لابراتوار به قطر ۲ الي سوراخ٤ ملي متر- ثانیه سنج - دیسي کاتور- کاغذ فلتریه سایزهاي مختلف ظروف شیشه ئي - ماشین شوردهنده غربال- یخچال - کناي کاشي - بیوریت ۵۰ ملي لیتره - کاغذ لتمس- داش -

سامان والا ت مورد ضرورت آمریت سروي ومطالعات دوربین زاویه دار- دوربین - سیستم مخصوص جریان برق جیوفزیکي -سیستم ساده جیوفزیکي برنگهاي مختلف -اله برقي جهت اندازه گیري آب چاه هاي جیوتخنیري -کمپرسور براي جیو لوجي به ظرفیت ۱۰ - سیت کرتاژ - کمپاس جیولو جیکي- برمه دستي -پنتوگراف- ماشین چاپ ازولیت برقي-

اشخاص وموسساتیکه داخلي وخارجي که خواهشرسانیدن آنرا داشته باشند درخواست هاي خویشرا بمدیریت اداري وزارت آب وبرق واقع بادام باغ بسپارند وخودشان ازتاریخ ۱۴۲۲/۲/۱٤ تایك ماه مراجعه نمایند شرطنامه را ملاحظه کرده میتوانند تضمین اخذ میگردد .

په اسلام آباد کي...

دلیږدوني لپاره دملګرو ملتو دسازمان دبندیزونو دکمیټي لخوا اجازه ترلاسه کړي خو دغې کمیټي تراوسه پوري ددغو بندیزونو دلیږدوني اجازه نده ورکړي او له همدي امله زموږ یوزیات شمیر هیوادوال په عربي متحده اماراتو کي له ستونزو او مشکلاتو سره مخامخ دي دافغانستان داسلامي امارت محترم سفیر دپاکستان دکورنیو چارو له وزیر څخه وغوښتل چي دپاکستان له لاري له متحده عربي اماراتو څخه دافغاني بندیانو دلیږدوني په برخه کي همکاري وکړي دبو . بل خبر له مخي دافغانستان داسلامي امارت سفیر محترم ملا عبدالسلام ضعیف پرون په اسلام آباد کي دمهاجرینو په چارو کي دملګرو ملتو دسازمان له عالي کمشنر شاغلي لوبرز سره وکتل ددغي کتني په بهیر کي دافغانستان په دننه او بهر کي دافغاني مهاجرینو دمشکلاتو په باب خبري اتري وشوي او دمهاجرینو په چارو کي دملګرو ملتو دسازمان عالي کمشنر ووېل دغه سازمان په پام کي لري چي افغاني مهاجرینو دافغانستان په دننه کي دعامي رورغتیا ښوونې او روزنې او کرنې په برخو کي دبیا جوړولو کار پیل کړي تر څو خلک مهاجرت ته اړ نشي

مجاهدین اردوي ...

شان عنوان میکنند . محترم قوماندان فرقه ولایت کنر درر ابطه به وضع کنوني آن ولایت چنین گفت وضع درسراسرولایت کنر آرام ومطمئن است مجاهدین اردوي اسلامي کاملاً براوضاع مسلط بوده وتلاش هاي مذبوحانه مخالفین که میخواستند امنیت رادربرخي مناطق آن ولایت مختل سازند به همکاري مستقیم مردم خنثي گردیده و مناطق غند چناري تنگي بابرو چوکي ونوآباد آن ولایت کاملاً تحت کنترول جزوتامهاي اردوي امارت اسلامي قراردارد وي افزود گرچه مخالفین پریروز بخاطر اخلال امنیت دست به یك سلسله تحرکات نظامي در برخي مناطق زده بودند که توسط قوت هاي مجاهدین اردوي اسلامي سرکوب وبدون کوچکترین دستاورد و پیشرفت به لانه هاي شیطاني شان فرار نمودند محترم مولوي سبحان الله درمورد ادعاي حاجي قدیر که درجنگ پریروز ولسوال سرکاني ولایت کنر کشته شده گفت این مساله نیز عاري ازحقیقت میباشد زیرا ولسوال سرکاني همین اکنون مصروف انجام وظایف محوله در آن ولسوالي میباشد وي در اخیر باردیگر تکرار نمود که مجاهدین اردوي اسلامي به توطئه ها و دسایس مخالفین آشنا بوده ویا مورال عالي نظامي آماده گي دفع وطرد حملات احتمالي دشمن را دارا میباشد ومردم درولایت کنر همکار نزدیك مسوولین امارتي میباشند .

د اداري اساساتو ...

په مقصد ددغه ریاست دکنفرانسونو په تالار کي جوړشوي د پرون پاشنه ورسیمه ددغه سیمینار په پاي ته رسیدونکي غونډه کي لومړي دکار او ټولنیزو چارو لوی رئیس محترم مولوي عبدالغیاث قانع دلوړو زده کړو وزارت معین محترم مولوي محمد مسلم حقاني دعامي روغتیا وزارت اداري رئیس محترم مولوي رحیم الله رحیمي محترم مولوي خلیل الرحمن شیخ او دسیمینار استاد محترم عبدالکریم حمید ددغه سیمینار دجوړېدو دلیل او ارزښت په باب خبري وکړي د روسته دریاست الوزرا محترم اداري مرستیال دموضوع په اړوند خبري وکړي دسیمینار کار یې وڅېړه او ددادول سیمینارونو دجوړولو په برخه کي یې لازمي لارښووني وکړي وروسته دسیمینار په برخه والو باندي هغه تصدیق لیکونه او نغدي سوغاتونه چي دکار او ټولنیزو چارو دلوی ریاست لخوا برابر شوي و دریاست الوزرا دمحترم اداري مرستیال دلوړو زده کړو وزارت دمحترم معین او یو شمیر نورو چارواکو لخوا وویشل شول .

دعامي روغتیا له ...

دعامي روغتیا وزارت معین محترم شیر محمد عباس ستانکزي پرون دتعمیرات موسسي له رئیس محترم محمد شیخ او دڅېړوزاشباع فونډیشن موسسي له اجرائیوي مسول محترم سلطان بشیر الدین محمد سره دکتني په ترځ کي په هیواد کي دروغتیا یي مسالو په باب خبري اتري وکړي او ددغو موسسو مالي او ولتو دارتو پیهدي دبرخي روزنی دسیمینار ونو او ورکشاپونو دجوړولو زمینه وکړه او دوه ګرځنده امبولانس موټرونه چي په میدان روغتیایي سامان الاتو سمبال دي دعامي روغتیا وزارت ته ورکړل له دغو امبولانسونو څخه دعاجلو پیښو دټپیانو او ناروغانو په لیږدونه کي کار اخیستل کیږي .

امریکا دمخدراتو ...

کمیټي کي له غړیتوب څخه بې برخي کړ . دمخدره موادو دکنترول په نړیوالي کمیټي کي د دبارلسو هیوادونو استازي شامل دي او دنده لري چي له دغو موادو څخه د بې ځایه استفادي او قاچاق په باب دملګرو ملتو دسازمان دمخدره موادو دکنوانسیون لارښووني عملي کړي او وې څاري .

برای ۷۰۰ تن دهقان..

شده بذري در فارم هاي مرکزي ،تصدي ریشخور ۲۳۵ جریب درفارم شاغاسي ۱۳۲ وهمچنان ازطریق تماس دایمي با دهاقین پیش قدم ولسوالي هاي مربوط کابل تحت پروگرام خوراکه وزراعت جهان (FAO) که درنتیجه همکاري ریاست تصدي تخم هاي بذري ودراین چند سال اخیر تصدي را دربخش هاي مختلف کمك ومساعدت مینماید .

وي مي افزاید : درکمپاین خزاني سال گذاشته وبهاري سال جاري جمعا مقدار ۱۷۲۳۷۲ کیلو گرام گندم اصلاح شده بذري که شامل انواع گرفا کون میباشد از طریق این تصدي براي ۷۰۰ تن دهقان توزیع شده که ذیلاً از آن یادآوري مي نمایم :

باتیپر ۱۰۷۴۳۵:۹٤ کیلوگرام .
-اریانا ۱۹۷۳۲:۸۵کیلوگرام .
-انقلاب ۳۸۹۷۷:۹۱کیلوگرام .
-HD ۲۳۸۳:۲۲۵۸کیلوگرام .
-HUW234: ۱۳۸٤ کیلوگرام .
-PBW154: ٤۵۰ کیلوگرام .
- PBW343: ۱٦۵۰ کیلوگرام .
-RANA96: ۱۵۵ کیلوگرام و
GUL96: ۲۰٦ کیلوگرام .

دراخیر محترم هاشمي اضافه نمودند : درکمپاین بهاري وخزاني سال جاري تصدي تخم هاي اصلاح شده بذري برعلاوه زمین دوقطعه فارم مربوطه که عبارت انداز فارم ریشخور وقلعه شاغاسي یك قطعه فارم ریاست مالداري وزارت زراعت را که بنام فارم بیله وري مسمي ویه طور اجاره دراختیار تصدي میباشد موازي ۸۰ جریب زمین آنرا انواع گندم هاي اصلاح شده بذري بهاري وخزاني کشت نموده است دو حلقه چاه عمیق آن که قبلاً تخریب وازاستفاده باز مانده بود فعلاً دوبار فعال ومورد استفاده ساخته است ،همچنان بمنظورجلو گیري از خشك شدن نباتات بذرشده فارم هاي مربوطه به حفر سه حلقه چاه عمیق مبادرت ورزیده وکار آن به شدت ادامه دارد . حمیدالله « عالمي »

دلوګر ولایت په ...

ولایت دعامي روغتیا رئیس محترم راجي الرحمن محترمي تاجي حمید ،عبدالرحیمزي دشلترنوالترنشنل یا دنړیوالي سرپناه لوي رئیس شاغلي جورج تامین دهغو مرستو په اړونډ چي په بهرکي دمېشتو خیریالو او احساس لرونکو افغانانو لخوا رټول شوي . دهیواد دبېلابېلو برخو بیا جوړونه دي ددي هیواد دهر وګړي رحیمه وبلله .دګمران دکلي دروغتیا یي کلینیک ودانۍ چي مقدماتي کارونه یې په بهرکي زموږ دیوي احساس لرونکي هیواد والي محترمي تاجي حمید عبدالرحیمزي لخوا ددېرشو زرو امریکائي دالرو په لګښت ترسره کیږي او ټول لګښتونه یې دنړیوالي سرپناه داداري لخوا تمویلیږي بېلابېل روغتیایي سروېسونه یکې په پام کي نیول شوي او په طبي وسایلو به سمبال وي د دغه روغتیا یي کلینیک دبنسټ دډبري دایښودلو په غونډه کي دلوګر ولایت دعامي روغتیا رئیس محترم راجي الرحمن ددغه ولایت دطلاعاتو او کلتور رئیس محترم ملا محمد یوسف صدیقي محترم محب الله عبدالرحیمزي او دسیمي یو شمیر سپین ږیرو ګډون کړي و .

توکسوپلازموس...

حیوانات پستانداروازانساج مبتلا به این مرض یافت میشود .منبع انتشار مکروب حیوانات وحشي واهلي وبه خصوص گربه ، خرگوش ، گاو ، مرکب ، اسپ وحتی پشه وماده گیکان تشکیل میدهد . انتقال مکروب از سه طریق ،دهن ، پلاستنا ، زرقیات ، تطبیق خون وجلد بکه تخریش شده باشد صورت میگیرد احتمال انتقال اتنان درخانم هاي حامله درسه ماه اول حمل پانزده فیصد درسه ماه دوم حمل سي فیصد ودرسه ماه آخر حمل شصت فیصد میباشد تقریباً ۸۰الی ۹۰ فیصد اشخاصیکه مصاب به این مرض گردیده اند بدون اعراض ، علایم وشکایت میباشد واما بعضي اوقات سبب بیحالي ، کسالت ، بي اشتهایی ، عصبانیت ، گنگسیت ، خراب شدن حافظه ، سردردي ، ودرد مفاصل وعضلات مي گردد .تشخیص مرض توسط معاینه لابراتواري خون بنام توکسوپلازموس تست میگردد بعدازاینکه مرض تشخیص شد بلافاصله باید تداوي شروع گردد وایجاب تداوي دوامدار را مینماید نتیجه تداوي ٦۰الي ۸۰ فیصد مثبت میباشد البته ناگفته نباید گذاشت که یك شکل مرض مکروب مذکور بدورخود یك قشر را مي سازد که ادویه ضد آن بداخل مکروب به آساني نفوذ نمي تواند و درمقابل تداوي مقاوم میباشد که این نکته هم مدنظر باشد . چگونه میتوان ازاین مرض وقایه وجلوگیري کرد ؟ براي مادران گرامي توصیه میگردد تا نظافت را درقسمت ظروف آشپزخانه وگذاشتن سرپوش مطمئن بالاي مواد غذایي مراعات نمایند .همچنان درصورتیکه حیوانات اهلي را درمنزل نگهداري مي نمایند درقسمت نظافت دست هاي خود بعداز تماس با حیوانات توجه جدي نمایند واگرچنین حیوانات از منزل دور نگهداري شوند بهتر خواهد بود وهمچنان فامیل هاي محترم از نگهداري حیوانات وپرندگان خانگي مانند پشك ،سگ ،خرگوش ،مرغ،کفتري ،مرغابي،دراتاق بود وباش واتاق خواب جداً خودداري نمایند تا صحت کامل نصیب شان گردد . درصورتیکه چنین حیواناتو وپرندگان بازهم به ایشان نزدیك بوده وسروکارداشته باشد باید حیوانات خود را همواره تحت مراقبت دوکتورحیوانات «وترنري» قراربدهند بایدخدمت مادران گرامي یاد آور شد که درجریان سه ماه اخیر مراجعه مادران مریض به کلینیك شخصي در حدود شصت مریض مبتلا به این مرض تشخیص وتحت تداوي قرار گرفته اندکه درجریان سواﻻت ومشاهدات ازمریضان یك تعداد از مریضان از داشتن سگ، خرگوش پشك خانگي درمنزل حکایت نموده اند که بعداز قطع تماس با حیوانات خانگي اینگونه مریضان با تداوي موفقانه بهبودي کسب نموده است .

کانتین بهاري

میداریم درآغاز محترم گرمسیري چنین گفتند :سیستم استماع نشرات رادیو شریعت وسایر ستیشن هاي جهان که از طرف امریکائي ها دراین هوتل قبلاًبه کارانداخته شده بودنسبت جنگ هاي اخیرازفعالیت باز مانده بود دوباره ترمیم وآماده بهره برداري گردید که دربنج رستورانت وحدود ۲۲۰ اطاق این هوتل از نشرات رادیویي استفاده شده میتواند موصوف علاوه کردند : حوض آبیازي این هوتل بطور پخته واساسي به شکل مدرن وعصري اعمار گردیده است از مدت ده سال به اینطرف نسبت یك سلسله تخریبات که به آن واردگردیده بود از فعالیت باز مانده بودکه اخیراً دوباره به شکل اولی آن ترمیم ومورد استفاده قرار گرفته است نامبرده افزودند: کلپ بوکسنگ هوتل انترکانتیننتال که جدیداً تاسیس وبه فعالیت آغازنموده است حدود پنجا تن از بوکسران جوان درآن مصروف تمرینات ورزشي بوده که بالباس مخصوص سپورتي ملبس وتحت راهنمایي محترم عبدالرزاق سنگ شکن فعالیت مینماید وي اضافه کرد :یك باب کانتین بهاري که جدیداً به فعالیت آغاز وبالاي یك تپه سرسبز وشاداب موقعیت دارد توجه سیاحان ومهمانان را بخود جلب مینماید .در این هوتل آیس کریم مخصوص ، چپس،همبرگر ، کباب وچاي ساده عرضه میگردد . مطبعه این هوتل که مدت ۱۵ سال بدینسو ازفعالیت باز مانده بود اخیراً دوباره آماده کارو فعالیت مطبوعاتي گردیده است. دربن مطبعه کارت هاي مخصوص هوتل وسایر فورمه هاي این هوتل به چاپ میرسد وازاین ناحیه **مشکلاتي که وجود داشت رفع گردیده این مطبعه میتواننداوراق مطبوع را بطور رنگه وسیاه وسفید به چاپ برساند وفرمایشات ادارات امارتي واشخاص** انفرادي را با شرایط سهل میپذیرد

حمیدالله« عالمي »

توجه

درنو ګډون کوونکو!
که شریعت اوونیزه نه درسیږي او یا شاوخته
دررسیږي نو په (٦۲۸۵۹) او (٦۲۸٦۷)
شمیرو ټیلفوني تماس ونیسئ.
اداره

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Emirate of Afghanistan
Chief Editor: Abdurrahim "Saqeb"
Editor: Ghulam M. Farooq
Printed by: Emirate's Printing Press